# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۱مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۵مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۶/۶



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره خبرې

۲- د افغانستان د پراختیایي تګلارې د تطبیقي چارو پیل

۳- د منرالونو ملي پالیسۍ مسودې تایید

# کابل ته د پنجشېر سیند د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره خبرې

په پلازمېنه کابل کې د مختلفو لاملونو له امله ترڅمکې لاندې اوبو کچه ټیټه شوې او په یوشمېر سیمو کې یې هېوادوال له ستونزو سره مخ کړي دي.

د پلازمېنې د اوبو د ستونزې د حل له پاره د افغانستان اسلامي امارت اړوند ارګانونه جدي هڅې کوي. په دې اړه یې له کورنیو او بهرنیو پانګوالو څخه په دې پروژه کې د پانګونې غوښتنه کړې. له نېکه مرغه، د کتوازي ګروپ په نوم یو خصوصي شرکت په دې پروژه کې د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلې ده.



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د اسد په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د یاد شرکت له مسوولینو سره وکتل او د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولینو ته یې دنده وسپارله چې د پروژې په اړه موجود معلومات او اسناد د کتوازي ګروپ شرکت ته په واک کې ورکړي.

د کتوازي ګروپ شرکت مسوولینو وویل، چمتو دي چې د ټولو معیارونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره له پنجشېر سیند څخه کابل ښار ته د اوبو د انتقال پروژه کې پانګونه وکړي.

د پرېکړې پر بنسټ، د اوبو او انرژۍ وزارت او کتوازي ګروپ به په دوه اوونیو کې خپل راپور له اقتصادي معاونیت سره شریکوي.

که چېرې دواړه لوري د پروژې په اړه یو تفاهم ته ورسېږي، نو دا به د کابل ښاریانو له پاره یو لوی خبروي. د پروژې په پلي کېدو سره به د ګڼ شمېر کابل ښاریانو د اوبو ستونزه حل شي.

# د افغانستان د پراختیايي تګلارې د تطبیقي چارو پېل

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ له مختلفو وزارتونو سره په همغږۍ د افغانستان پراختیایي تګلاره جوړه او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري منظور شوې وه. د یادې تګلارې د تطبیقي چارو د پېل په اړه د ۱۴۰۴ کال د سنبلې په څلورمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې غونډه جوړه شوې وه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، یوشمېر وزیرانو او د امارتي ادارو یوشمېر مشرانو په کې ګډون کړی و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو امارتي ادارو څخه وغوښتل چې د یادې تګلارې د تطبیق له پاره د برنامو جوړولو، د پروژو اولویت بندي، قیمت ټاکنه او مؤثره څارنه او خپلمنځي همکاري وکړي.

یاده تګلاره د لاندې موخو ترلاسه کولو کې مؤثره ثابتېږي:

- د امنیت او ثبات ټینګښت؛

- به حکومتولي او د قانون د حاکمیت ټینګښت؛
- متوازنه وده؛
- **د پراختیایي چارو لارښوونه او همغږي کول؛**
- د پانګونې جلب او جذب لپاره اسانتیاوې برابرول؛
- د بې‌وزلۍ او بې‌کارۍ کمول؛
- او د بهرنیو اړیکو ټینګښت او پراختیا.



د دغه مهم سند په تطبیق سره به اسلامي امارت په بېلابېلو سکټورونو کې د خپلو لومړیتوبونو له مخې ټاکل شویو موخو ته په ښه ډول ورسېږي. ملت به پوه شي چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ په موخه اوږدمهاله پلانونه لري. په دې سره به د ګډو اسلامي او ملي اهدافو په لوري ګړندي ګامونه واخیستل شي.

## د منرالونو ملي پالیسۍ مسودې تایید

افغانستان پرېمانه کاني زېرمې او ډول ډول منرالونه لري. په تېرکې د دغو کاني زېرمو استخراج تر ډېره په خپلسري، غېرقانوني او غېر مسلکي ډول ترسره کېده. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د دې ملي شتمنۍ استخراج قانوني کړي او د خپلسرو او غېر مسلکي کېندنو مخه ونیسي. د دې له پاره یوې پالیسۍ ته اړتیا وه. د منرالونو ملي پالیسۍ مسوده د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون تایید کړه.



د پالیسۍ ځینې موخې په معیاري ډول د کانونو تفحص، اکتشاف او ګټه اخیستنه، د کورنیو او بهرنیو پانګوالو جذب او د کان کېندې نوې ټکنالوژۍ او تجهیزاتو واردول دي. د یادې پالیسۍ له مخې به په هېواد کې دننه د کاني موادو پروسس ته زمینه برابره اود کانونو سکټورله پاره به متخصص او تخنیکي کارمندان وروزل شي. د دې پالیسۍ په رڼا کې به اړوند قانوني او نظارتي ګامونه او نورې حمایوي پالیسۍ چمتو کېږي. د کانونو او پټرولیم وزارت به وخت په وخت د جوړې شوې پالیسۍ څارنه او ارزونه د یو منظم پلان له مخې کوي.